السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# آیا پر ما باور نه کوئ، حال دا چې زه د هغه ذات امین یم چې په آسمان کې دی؟ ما ته د آسمان خبرونه سبا او بیګا راځي

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: علي بن أبي طالب رضي الله عنه له یمن څخه رسول الله ﷺ ته یو څه سره زر راولېږل، چې په یوه رنګ شوي پوستکي کې تاو وو او له خاورو لا پاک شوي نه و، نو رسول الله ﷺ د څلور کسانو تر منځه وویشل: عیینه بن بدر، اقرع بن حابس، زید الخیل، او څلورم کس یا علقمه و یا عامر بن طفیل، نو د رسول الله ﷺ له اصحابو څخه یو کس وویل: موږ له دې کسانو نه زیات مستحق وو، وایي، دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسېده، نو هغه وفرمایل: «آیا پر ما باور نه کوئ، حال دا چې زه د هغه ذات امین یم چې په آسمان کې دی؟ ما ته د آسمان خبرونه سبا او بیګا راځي» بیا یو سړی راپاځېد، چې سترګې یې ژورې، غومبوري یې لوړ، تندی یې پورته، ږیره یې ګڼه، سر یې پک، او لنګ یې بډ وهلی و، هغه وویل: اې د الله رسوله! له الله نه ووېرېږه! رسول الله ﷺ وفرمایل: «هلاک شې! آیا زه د ځمکې په خلکو کې تر ټولو زیات له الله نه ویریدونکی نه یم»؟ وایي، بیا هغه سړی لاړ، نو خالد بن ولید رضي الله عنه وویل: اې د الله رسوله! آیا څټ یې ونه وهم، رسول الله ﷺ وفرمایل:«نه، شاید دا سړی لمونځ کوي» نو خالد وویل: ډېر داسې لمونځ کوونکي شته چې په ژبه یو څه وایي، خو هغه یې په زړه کې نه وي، رسول الله ﷺ وفرمایل: «زه مامور نه یم چې د خلکو زړونه وڅېړم یا یې نسونه څیرې کړم» وایي، بیا یې ورولیدل، په داسې حال کې چې هغه روان و، نو ویې فرمایل: د دې سړي له شا څخه به داسې خلک راووځي چې د الله کتاب به ښایسته لولي، خو له ستوني به یې نه تېرېږي، خو له دین څخه به داسې وځي لکه غشی چې له لیندې څخه وځي»، راوي وایي: ګومان کوم رسول الله ﷺ وویل: «که زه هغوی وموموم، نو د ثمود د قوم په شان به یې ووژنم».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

علي بن أبي طالب رضي الله عنه له یمنه رسول الله ﷺ ته یوه د سرو زرو ټوټه راولېږله، چې په رنګ شوي پوستکي کې وه، او لا له خاورو پاکه شوې نه وه، وایي: نو رسول الله ﷺ دا د (سرو زرو ټوټه) په څلورو کسانو ووېشله. عیینه بن بدر الفزاري، اقرع بن حابس الحنظلي، زید الخیل النبهاني او علقمه بن علاثة العامري، نو د رسول الله ﷺ له اصحابو څخه یوه سړي وویل: موږ له دې کسانو زیات مستحق وو، وایي: رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسیده، نو هغه وفرمایل: «آیا پر ما باور نه کوئ، حال دا چې زه د هغه ذات امین یم چې په آسمان کې دی؟ ما ته د آسمان خبرونه سهار او ماښام راځي». راوي وایي: نو یو سړی راپاځېد، چې سترګې یې ژورې کندو ته لویدلې وې، د مخ غومبوري یې راوتلې و، تندی یې پورته و، ږیره یې ببره خو اوږده نه وه، سر یې خریلی و، او د بدن د لاندې برخې لنګ یې بډوهلی و، نو ویې ویل: اې د الله رسوله! له الله نه ووېرېږه!" نو رسول الله ﷺ وفرمایل: «هلاک شې! آیا زه د ځمکې پر مخ تر ټولو زیات د الله نه ویریدونکی نه یم؟!» راوي وایي: بیا هغه سړی روان شو، خالد بن ولید وویل: اې د الله رسوله! آیا څټ یې ونه وهم؟ نبي ﷺ وفرمایل: نه، کېدی شي لمونځ به کوي، نو خالد وویل: ډېری لمونځ کوونکي شته چې په ژبه هغه څه وایي چې په زړه کې یې نه وي، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته پدې امر نه دی شوی چې د خلکو زړونه وڅېړم او نه دا چې نسونه یې څیرې کړم؛ بلکې ماته امر شوی چې د خلکو د ظاهري اعمالو پر بنسټ فیصله وکړم، وایي: بیا (نبي ﷺ) هغه ته وکتل، حال دا چې هغه روان و، نو ویې فرمایل: د دې سړي او د ده له ملګرو او قبیلې به داسې نسل راووځي چې د الله کتاب به په ښایسته غږ لولي، د زیات تلاوت له امله به یې ژبې لندې وي، خو قرآن به د هغوی له ستوني نه تېرېږي چې زړونه یې درک کړي او پرې اصلاح شي، او الله به یې پرې نه پورته کوي او نه به یې ترې قبلوي، له اسلامه څخه به داسې وځي لکه غشی چې له لیندې سپک او په تېزۍ سره وځي. او ګومان کوم ویې فرمایل: که مې وموندل چې د مسلمانانو په مقابل کې راپورته شوي، نو لکه د ثمود د قوم په څېر به یې پر وړاندې سخت وجنګېږم.